د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۷۵ مه گڼه • چهار شنبه • د کب ۲۲مه • ۱۳۹۷



۲۰

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ۵۵ پرمختیايي پروژو هوکړه لیکونه د ۵۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت لاسلیک کړل

**په فاریاب کې**
**څه باندې ۱۹ میلیونه افغانیو په لګښت د ٤ ښوونځیو د جوړولو کار پیل شو**

۱۸

**په تیره میلادي میاشت کې د ۱۰٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو په برخه کې ٤۰ پروژې بشپړې شوې**

۱٤

**په غور کې**
**د ۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱٤ پرمختیايي پروژو چارې بشپړې شوې**

٤

# په بلخ کې ۷۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې



۱۳۹۷/کب/۱۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو د ملي پروګرام له لوري د بلخ ولایت د نهر شاهي ولسوالۍ د نواباد سفلي په کلي کې د اوبو رسولو سولري شبکه چې پنځه میلیونه ارزښت لري، ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

دا شبکې کې ۹۰ متره ژور څاه، د ۲۰ مکعب مترو په حجم د اوبو ذخیره، د پنځو کیلومتره په اوږدوالي پمپ، ۲۷ سولرې، یو واټر پمپ او ٤۳٥ د اوبو نلکۍ لري.

د دې شبکې د جوړولو په کاري بهیر کې ۱٦٥ کاري ورځې رامنځته شوې او ۷۰۰ کورنیو ته به د څښاک پاکې اوبه برابروي.

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام دپکتیا په ولایت کې رسماً خپل فعالیتونه پیل کړل



۱۳۹۷/۱۲/۱۸

د یاد پروګرام د پرانیستې مراسم دولایت مقام مرستیال ښاغلي عبدالولي سهی ، ولسوالانو، د ولایت د ښاروالي رئیس، سکتوري رییسانو، د ښځو چارو رییسې ، رسنیو او د کلیوالي شوراګانو مسوولینو ګډون درلود.
پکتیا کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام - WEERDP په مرکز ګردېز او احمدآباد ولسوالیو کې ۱٦۱ کلي تر پوښښ لاندې نیسي چې د ٥ کالو په موده کې به د پور او سپما اتحادیو له لارې ورسره د ۱۰٤ میلیونه افغانیو په اندزه بلاعوضه مرسته وشي.

# په غور کې د ۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱٤ پرمختیایي پروژو چارې بشپړې شوې



۱۳۹۷/کب/۱۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د غور ولایت په شهرک او تولک ولسوالیو کې د ۲۲،۷۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۱٤ پرمختیایي پروژو چارې بشپړې شوې.

په دې پروژو کې د ځنډاک د اوبو شبکې، د اوبو د چینو رغونه، استنادي دیوالونه او د اوبو ذخیرو جوړولو شامل ول، چې ۱٤۲۰ کورنۍ به ترې ګټه اخلي.

د یادونې وړ ده، چې دا په غور کې د ولسي تړون ملي پروګرام له پیل تر اوس دوهم ځل پروژې وې، چې ګټې اخېستنې ته وسپارل شوې.

# په کندوز کې د ۱۰،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د پنځو پروژو چارې بشپړې شوې



۱۳۹۷/کب/۱۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون د ساتنې او مراقبت پروګرام (MCCG) له لوري په کنړ ولایت کې د پنځو پرمختیایي پروژې چارې د ۱۰،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړې شوې.

په دې پنځو پروژو کې ٤٣٤٥ متره سړک باندې د جغل اچول او ٤٧٥ متره محافظوي دیوال بیارغول شامل ول، چې د کنړ ولایت چرخاب، چله مزار، جلګه، لرخابي او د لرخابي باغ میري په کلیو کې پلي شوې او د سیمې کسانو ته ٩٦٨٣ کاري ورځې هم رامنځته کړې.

# په خوست کې د ۳۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳،۵ کیلومتره سړک د جوړولو چارې روانې دي



۱۳۹۷/کب/۱۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د خوست ولایت د تڼو ولسوالۍ دګربز صحرا په سیمه کې د ۳،۵ کیلومتره سړک د جوړولو چارې ۳۰ فیصده بشپړې شوي.

د دې سړک په کاري بهیر کې ۱۰۱۲٤ کاري ورځې رامنځته شوي او له بشپړیدو وروسته به ۳۰۰۰ کورنۍ ترې ګټه اخلي.

د دیادونې وړ ده، چې یاد سړک نه یوازې ۱٦ کلي له یو بل سره نښلوي، بلکې دوې ته به ګڼې ترانسپورتي اسانتیاوې هم برابرې کړي.

# په بلخ کې د ۳،٦ ميليونه افغانيو په ارزښت د ښوونځيو د ودانيو د جوړولو چارې پيل شوې



۱۳۹۷/کب/۱۸

د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروگرام له لوري د بلخ ولايت د دهدادي ولسوالۍ د کاريز خرد په کلي کې ديو ښوونځي د جوړلو د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

دا ښوونځي شپږ درسي خونې، تشناب او د څښاك د اوبو څاه لري، چې چارې به يې په اتو مياشتو کې بشپړې شي.

# په کندهار کې د څه باندې د ۳ميليونه افغانيو په لګښت د څښاك د پاکو اوبو د شبکې د جوړولو کار، پيل شو

۱۳۹۷/ کب/ ۱۹

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري څه باندې د ۳ ميليونه افغانيو په لګښت د څښاك د پاکو اوبو د شبکې د جوړولو کار د کندهار ولايت د سپين بولدك ولسوالۍ د شين ګل اکا په کلي کې پيل شو. ياده پروژه د اوبو د دريو زيرمو لرونکي ده چې د څلورو مياشتو په اوږدو کې به بشپړه شي او ۱۷۸ کورنۍ به ترينه اخلي.



# په خوست کې د نهه میلیونه افغانیو په ارزښت یو استنادي دیوال ګټې اخېستنې ته وسپارل شو



۱۳۹۷/کب/۱۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د خوست ولایت د تنیو ولسوالۍ په دره ګي کلي د نهه میلیونه افغانیو په ارزښت، ۵٦۳ متره اوږد دیوال ګټې اخېستنې ته وسپارل شو.

ددې دیوال د جوړولو په کاري بهیر کې ۱٤۰۰ کاري ورځې رامنځته شوې او د سېمې ۱۰۵۰ کسان به ترې ګټه اخلي او ۵۵۰ جریبه ځمکه یې د سیلابونو له احتمالي خطره خوندي کړه.

# په کندوز کې د ۱،۵۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو دیو کانال د جوړولو چارې روانې دي



۱۳۹۷/کب/۱۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۱،۵۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یو کانال جوړولو چارې د کندوز ولایت د علي ولسوالۍ دګداي خیل په کې روانې دي.

دا کانال ۱۱۰ متره اوږدوالي لري او په کاري بهیر کې د سیمې ۲٤ کارګرانو ته ۱۱۷٦ کاري ورځې رامنځته کېږي او ۷۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبوي.

# په کنړ کې د ۱،۷۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د کرنیزو ځمکو د خړوبولو کانال ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



۱۳۹۷/کب/۱۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د کنړ ولایت د دره پیچ ولسوالۍ په تختوي کلي د اوبو رسولو یو کانال چې ۱،۷۹ میلیونه افغانۍ ارزښت لري، ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دا کانال ۱٦٤ متره اوږدوالی، یو محافظوي دیوال او پنځه معبرونه لري، چې چارې یې په ۹۰ ورځو کې بشپړې شوې.

د یادونې وړ ده، چې دا کانال به ۳۵۰ جریبه زراعتي ځمکه خړوبوي او ٦٦۰ کورنۍ به ترې ګټه اخلي.

# نازیان ولسوالۍ کې د برېښنا رسونې په موخه د ۱۰۲۵٦ کورنیو سروې بشپړه شوه



۱۳۹۷/کب/۱۹

د افغانستان د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت « د افغانستان د کلیو پراختیا لپاره د دومداره انرژي پروګرام» له لارې سرحدي ولسوالیو ته د برېښنا رسونې پروژې له لوري د ننګرهار ولایت په نازیانو ولسوالۍ کې ۱۰۲۵٦ کورنیو سروې چارې بشپړې شوې.

دغې سروې د تدارکاتي چارو له بشپړېدو وروسته به په یادو ولسوالیو کې کور په کور د لمریزې برېښنا د کڅوړو د وېش لړۍ پیل شي، چې د مېشتو وګړو ژوند کې به مثبت بدلون رامنځته کړي

د یادونه وړ ده چې له دې وړاندې د ننګرهار ولایت د لسوو ولسوالیو له ډلې دوربابا او ګوشتې ولسوالۍ د سروې چارې هم بشپړې شوي دي.

# په کنړ کې د ۱،۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یو کانال د جوړولو کارونه روان دي



۱۳۹۷/کب/۱۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د کنړ ولایت د څوکي ولسوالۍ د قلعه مسعود اباد په کلي کې د اوبو رسولو یو کانال د ۱،۷ میلیونه افغانیو په ارزښت سره جوړیږي، چې کارونه یې ۳۵ سلنه بشپړ شوي.

یاد کانال ۵۰٦ متره اوږدوالي لري او د جوړولو په چارو کې ۲۵ تنه په کار بوخت دي، چې په جوړیدو سره به د سیمې ۱٦۱ کورنۍ ترې ګټه اخلي او ۲۵۰ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبوي.

# په ننګرهار کې د څلور میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳،۲ کیلومتره سړک د جوړولو کارونه دي



۱۳۹۷/کب/۱۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د هزار بیک په کلي کې د څلور میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳،۲ کیلومتره سړک د رغولو چارې د څلور میلیونه افغانیو په ارزښت روانې دي.

د دې سړک په څنګ کې د ۴۵۸ متره د تیږو دیوال هم جوړیږي، چې په کاري بهیر کې یې ۱۷۱ تنه کسان بوخت دي او له بشپړیدو وروسته به د سیمې ۵۳۸ کورنۍ ترې ګټه اخلي.

# په تېره میلادي میاشت کې د ۱۰٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو په برخه کې ٤۰ پروژې بشپړې شوې



۱۳۹۷/کب/۲۰

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو ملي پروګرام له لوري د روان میلادي کال د فبروري په میاشت کې د هېواد په یوولس ولایتونو: بلخ، دایکنډي، فراه، فاریاب، هرات، جوزجان، کندهار، خوست، پکتیا، سرپل او زابل کې د ۱٦۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو او حفظ الصحي په سکتورونو کې ٤۰ پروژې پلي کړې.

په دې پروژو کې د اوبو رسولو د ۱۸ شبکو جوړولو، احاطوي دیوالونه،

د خلور ژور څاګانو کېندل، د ۱٤ نیمه ژور څاګانو کېندل او د یوې بلې شبکې رغونه، چې په یاد ولایتونو کې ۵۹۰۰ کورنیو ته د څښاك اوبه برابرې کړې.

همدرنګه د اوبو رسولو د ملي پروګرام د حفظ الصحې، پاکۍ او تعلیماتو په برخه کې د هېواد په اتو ولایتونو: بدخشان، بادغیس، بامیان، دایکنډي، هلمند، کندهار، ننګرهار او پکیتا ولایتونو کې ۱۱۱ تشنابونو نوي جوړ کړي او ٤۸۵ نوریې رغولي.



# په کندز کې څه باندې ۳،۱ میلیونه افغانیو په لګښت د دوو پرمختیایي پروژو کار بشپړ شو



۱۳۹۷/کب/۲۰

د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام دخارنې، ساتنې او ودانۍ له پاره د پراختيايي نغدي وجهې پروګرام (MCCG) د ۱۰۰ مترو په اوږدوالي محافظوي ديوال او د ۸۰٦ مترو په اوږدوالي پر سړک د شګې اچولو پروژو کار د کندز ولايت په مرکز کې بشپړ شو. يادو پروژو د کار په بهير کې ٤۱ ماهرو او غير ماهرو کاريګروته ۱٤۹۲ کاري ورځې رامنځته شوې او ۳۰۰ کورنۍ به ترې ګټه اخلي.

# په زابل کې د څه باندې ۱۹۷ میلیونه افغانیو په لګښت د ۳۹ ښوونځیو د ودانیو جوړولو کارونه پیل شول



۱۳۹۷ / کب/ ۲۰

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۱۹۷میلیونه افغانیو په ارزښت د ۳۹ ښوونځیو د ودانیو جوړولو چارې په زابل کې پیل شوې، چې د سیمې ۳۰ زره زده کوونکو ته به ښه درسي چاپیرل برابر کړي او د دې ترڅنګ به د دې ښوونځیو د ودانیو جوړولو په کاري بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګرو ته ۱۰۰ زره کاري ورځې رامینځته شي.

# په فاریاب کې د څه باندې ۱۹ میلیونه افغانیو په لګښت د ٤ ښوونځیو د جوړولو کار پیل شو



۱۳۹۷/ کب/ ۲۰

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اقراء پروګرام تر سیوري لاندې د څلور ښوونځیو د ودانیو د جوړېدو کار په فاریاب ولایت کې رسماً پیل شو. له دغو څلورو ښوونځیو څخه دوه یې ۸ ټولګي او دوه نورې یې ٦ ټولګي لرونکي دي. دغې ښوونځي به د قرغان ولسوالۍ په کارګز خانه کشکتان کلي، د اندخوي ولسوالۍ په سولدوز کلي، د

# په هلمند کې له ٦ اړمنو کورنیو سره د څه باندې د ٧٦ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه



۱۳۹۷/ کب/۲۰

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري په دې وروستیو کې د هلمند د لښکرګاه ولسوالۍ د حاجي چارګل کلي له ٦ بیوزلو کورنیو سره د څه باندې ٧٦ زره افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه. په دې مرستو کې اوړه، لوبیا، وریجې، غوړي او چاي شامل وو.

# په کابل کې د اوبو رسولو یو کانال د ١،٦٧ میلیونه افغانیو په ارزښت جوړېږي

۱۳۹۷/کب/۲۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ د شاه اغاسي په کلي کې د اوبو رسولو د یو کانال د جوړولو چارې پیل شوې.

د دې کانال اوږدوالی ۲۵۰ متره دي، چې له بشپړېدو وروسته به ۱۰ هکتار ځمکه خړوبوي او د سیمې په کرنیزو حاصلاتو کې به ۸۹ سلنه زیاتوالی راولي.



# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ۵۵ پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه د ۵۲۲ میلیونه افغانیو په ارزښت لاسلیک کړل

۱۳۹۷/۱۲/۲۱

کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د هېواد په ۱٤ ولایتونو: بادغیس، بغلان، غور، کابل، کندهار، خوست، لوګر، نورستان، پکتیا، پکتیکا، پنجشیر، سمنګان، تخار او زابل کې د ۵۵ پرمختیایي پروژو هوکړه لیکونه د پرمختیایي شوراګانو او شخصي شرکت سره لاسلیک کړل.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهنمل مجیب الرحمن کریمي د دې پروژو د لاسلیکولو په موخه جوړ شوي، مطبوعاتي کنفرانس کې وویل» د دې پروژو ټولیز ارزښت نږدې ۵۲۲ میلیونه افغانیو ته رسیږي، چې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري به د هېواد په ۱٤ ولایتونو کې پلي شي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر زیاته کړه، چې د دې پروژو په لګښت کې لس سلنه ونډه د کلیو خلک ده، چې نږدې ۳۸ میلیونه افغانیو ته رسیږي او نورې پیسې د افغانستان دولت له لوري ورکول کیږي.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وایي، چې د دې ۵۵ پروژو له



ډلې څخه ۱٦ یې د کاریزونه دي، چې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو په برخه کې ګټور دي او په نورو پروژو کې د اوبو رسولو شبکې، استنادي دیوالونه، سړکونه او د پلونو جوړول شامل دي.

ښاغلي کریمي زیاته کړه، چې د دې پروژو له لارې به ۱٤٤ زره کاري ورځې رامنځته شي او ۱۵۷ زره خلک به له دې پروژو څخه ګټه اخلي.

د یادونې وړ ده، چې د تېرو درې کالونو په ترخ کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییزو پروګرامونو د همغږۍ دفتر له لوري د څه باندې ٦ ملیارده افغانیو په ارزښت ۱۲۱۳ پروژې پلي شوي، چې د دوه نیمه میلیونه کاري ورځو د رامنځته کولو سربیره تر ٦ میلیونه خلک ګټه اخلي.

# ارزوګان کې د دوو میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو دیوې شبکې چارې بشپړې شوې



۱۳۹۷/کب/۲۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو د ملي پروګرام له لوري د ارزوګان ولایت د مرکز په سرشخلي کلي کې د اوبو رسولو دیوې شبکې چارې د دوو میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړې شوې.

په دې شبکه کې د ۳۲ مکعب مترو په حجم د اوبو یوه ذخیره، ۸۹۵ متره پایپ او ۱۸ د اوبو نلکې لري، چې تقریبا ۲۰۰ کورنیو ته به د څښاک اوبه برابروي.

# په کابل کې د ۹۳،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷۰ پرمختیایي پروژو کارونه پیل شول



۱۳۹۷/کب/۲۲

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د ۹۳،۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۷۰ پرمختیایي پروژو کارونه د کابل ولایت په موسهي ولسوالۍ کې د کابل والي او د یاد ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا رئیس لخوا د بنسټ ډبرې په ایښودو سره پیل شول.

په دې پروژو کې ۱۹ پروژې د اوبو رسولو د کانالونو او د محافظوي دیوالونو جوړولو دي، چې ۲۰٤٤ جریبه کرنیزه ځمکه به خړوبوي، ۲۸ نوري پروژې د څښاک د اوبو د څاګانو د جوړولو په برخه کې دي او ۲۳ پروژې د برېښنا د تولیدولو په برخه کې دي، چې ۱٤٦ کیلوواټه برېښنا به تولید کړي، لد دې پروژو له بشپړیدو وروسته به ٦٥٦۳ کسان په مستقیم ډول ګټه اخلي.

# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له کارمندانو د لیسانس او ماسټرۍ زده کړو په موخه ازموینه واخیستله شوه



۱۳۹۷/کب/۲۲

د افغانستان د کلیو پراختیا انسټیټوټ د بورسونو او فیلوشپونو آمریت د وزارت مقام په ملاتړ او ژمنې سره سم د خپلو کارکوونکو ظرفیت لوړولو لپاره شخصي پوهنتونونو ته د لیسانس او ماسټرۍ لپاره د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت کارکونکو معرفي کولو لپاره لومړنۍ ازموینه واخیستل شوه. په دغه ازموینه کې د ټاکل شوي کمیټې غړو د وزارت مقام سلاکار انجینیر جاوید احمد، د بشري سرچینو رئیس محمد نور کټوازي او د افغانستان د کلیو پراختیا انسټیټوټ سرپرست اجراییوي رئیس عبدالمنیر وکیلي ګډون درلود.

په دې ازموینې کې ۲۵۰ تنو ګډون درلود، چې له دې ډلې به یې ۲۵ تنه د لیسانس او ماسټرۍ زده کړو لپاره شخصي پوهنتونونو ته ور وپیژندل شي.



# مستفید شوندگان برنامه ملی انکشاف اقتصاد روستایی سند رسمی کار و تجارت را از سوی اتاق تجارت و صنایع زنان افغانستان به دست آوردند

۲۲ حوت ۱۳۹۷

اتاق تجارت و صنایع زنان افغانستان، ضمن تجلیل از ماه زن، سند رسمی کار را برای برخی از متشبثین زن، اعم از مستفیدشوندگان برنامه ملی انکشاف اقتصاد روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات و متبشبثین اتاق تجارت و صنایع زنان افغانستان توزیع کرد. این مراسم با حضور خانم رولا غنی بانوی اول کشور، نرگس نهان سرپرست وزارت معادن و پطرولیم، کامله صدیقی معین امور تجارتی وزارت تجارت و صنایع، نبیله مصلح معین مالی و اداری وزارت امور زنان، منیژه وافق ریس اتاق تجارت و صنایع، پیری مایدون سفیر اتحادیه اروپا در افغانستان، فعالان حقوق زن و سایر اشتراک کنندگان در اتاق کنفرانس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت برگزار شده بود و در آن زمینه نمایش صنایع دستی زنان پایتخت و سایر ولایات کشور نیز فراهم شد.

قرار است بر اساس یک تفاهم‌نامه بین برنامه ملی انکشاف اقتصاد روستایی و اتاق تجارت و صنایع زنان افغانستان هفته آینده سند رسمی کار و تجارت به تمامی مستفیدین برنامه ملی انکشاف اقتصاد روستایی وزارت احیا و انکشاف دهات توزیع شود.

